# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


انجنیر محمد داؤد اڅک
۱۸ جنوری ۲۰۲۵

# تاریخ لیکونکي او تاریخ پوه تر منځ توپیر

زما (لیکوال) په باور تاریخ یوه تېره شپېه ده، زړه واقعه ده، او د نن لپاره یوه مجهوله او نامعلومه قضیه ده، د سبا لپاره د ناندریو او اختلافاتو را پارونکي لانجه ده، همداسي د بیلو ښکارهنګونو (کلتورونو)، قومونو حتا حکومتونو لپاره یوه غیر ثابته حادثه ده چي هر حکومت، سازمان یا تاریخ لیکونکی او تاریخ پوه ئي د خپل لیدلوري او امکاناتو په کچه لیکي، تحلیلوي او موږ ته ئي را پیژني.

دا هم روښانه ده چي تاریخ لیکونکي یا په تاریخي پیښو کي شکیل اړخونه او د هغوئ پلویان تر ممکنه حده د پیښي په څېړلو او معرفي کولو کي خپله عقیده او علاقه هم ځایوي. موږ او تاسو وینو چي ځیني تاریخ لیکونکي هم د خپلو کړونو او هم د تاریخي پیښو په هکله رشتیا نه لیکي یا ئي په ډول د ډولو تحریفوي، چي په پایله کي تاریخ خپله اصلي او واقعي څیره د لاسه ورکوي. ځکه نو تاریخ علم ندئ بلکه فلسفه ده.

فلسفه د بیلو فیلسوفانو لخوا بېل بېل تعریف سوېده خو زما (لیکوال) په اند فلسفه د اشخاصو نسبي شناخت او درک دئ د مفهوم او پدیدي په هکله. یعني که انسان یو شئ یا پدیده په کامل ډول وپیژني او د ټولو انسانانو لخوا تجربه سي بیا نو هغه شئ یا پدیده د فلسفي چوکاټه وزي او په علمي چوکاټ کي ځای پر ځای کیږي. لکه ۲ + ۲ = ۴.

معنا دا چي د تاریخ فلسفه د فلسفي هغه ښاخ دئ چي پخوانئ پیښي په بیلو داسي رویښو او تحلیلو سره څیړي چي د پیښي او اطلاعاتو اصلي ماهیت او زات معلوم کړي. ځکه نو د تاریخ فلسفه عموماً په دوه رویښه کار کوي:

- یو رویښ دا دئ چي تاریخ لیکونکی پیښي یا د نورو تاریخ لیکونکو اقوال را ټولوي بیا هغه ته عبارت ایږدي او په بیلو وسایلو ئي میډیا ته را باسي. یعنی د یوې پیښي ځای، وخت، تصویر او وسایل ټولنی او نړئ ته معرفي کوي. پدې رویښ کي تاریخ لیکونکی د پیښي ژورتیا ته نه وي متوجه حتا د پیښي په معرفت کي خپلو الفاظو او کلماتو ته هم نه وي متوجه چي کلمات ئي په تاریخي، حقوقي، عیني او ادبي لحاظ د موضوع سره مناسب دي که یا؟

ځکه چي پدغه رویښ کي د حوادثو را ټولونکی او معرفي کونکی تاریخ لیکونکی دئ نه تاریخ پوه. لکه ښاغلي عبدالباري جهاني چي په خپله لیکنه (کیش شخصیت در تاریخ نګاري و تحلیل نګاري) کي د افغانستان مترقي، نوښت ګر او د ازادئ قهرمان پاچا (امان الله خان) ته د فرار کلمه کارولې ده، یعني فراري ئي بللی دئ او څو ځایه ئي داسي لیکلي دي چي زه ئي کټ مټ رانقلوم:

(در آن زمان و شرایط، شخص امان الله خان در قندهار بود و برای ګرفتن دوباره قدرت تلاش می ورزید، و از اثر مخالفت های قبایل منګل، احمد زی، اندړ و توخی نتوانست از اطراف غزنی پا فراتر نهد و مجبور به فرار شد... -

نادرخان امر اورا اطاعت نکرده بود ( البته در آنوقت هنوز امان خان قانوناً پادشاه افغانستان بود) ولی وقتیکه او یک فراری بود چطور میتوان قبول کرد که نادرخان به اوامر و فرامین... - امان الله خان هیچ فکر نمیکرد که او در شهر قندهار به حیث یک فراری که هر آن از طرف دشمنی که بر تخت آبایی او تکیه ورزیده است تعقیب میگردد زندگی میکند...).

دغه فرار کلمه ښاغلي اشرف غني هم د خپل قدرت پر وخت په یوه وینا کي غازي امان الله خان ته داسي کارولي وه:

(امان الله خان پر موږ گران وو، خو وتښتېد، موږ ئي یوازي پرېښولو. او په لوړ اواز وایي چي زه د تښتي نه یم).

که څه هم چي د جهاني لیکنه دري کاله مخکي په رسانیو کي خپره سوېده او زه (لیکوال) د داسي معاصر تاریخ سره چي د اختلافاتو لامل کیږي نه علاقه لرم، نه ئي لیکم او نه ئي لولم، په تېره بیا چي ډېره اوږده لیکنه وي. خو کله چي ما (لیکوال) په فیسبوک کي پدې هکله د ښاغلي جهاني او ښاغلي سیستاني مناقشه ولیدل نو اړ سوم چي د جهاني صاحب لیکنه ولولم. د جهاني صاحب لیکنه ډېره اوږده او پر څو برخو وېشل سوېده خو زه ئي د څلورمي برخي سره مخامخ سوم چي همدغه د فرار او فراري کلمه څو ځایه کارول سوېده. ما نوره لیکنه د خپلي علاقي پر بنسټ نده لوستي خو پدې خاطر چي راتلونکي تاریخ لیکونکي دغه کلمه او اشتباه تکرار نکړي نو غواړم چي صرف په فرار کلمي پسي څراغ واخلم چي ایا جهاني صاحب نوموړې کلمه پر ځای کارولې ده او که خدای مکړه د کوم غرض یا عقدې پر اساس ئي دا کار کړیدی، یا دا چي د ده ذهني تناقض دی. زه (لیکوال) پدې اند یم چي ښاغلی جهاني به کوم بد غرض نلري بلکه د هجرت او فرار توپیر ئي ندی مراعت کړی. نو راځی چي فرار او هجرت وپېژنو.

## د فرار او هجرت معنا او توپیر

۱ - **فرار** په عربي ژبه کي مذکر اسم دی چي غالباً مریانو ته هغه وخت کارېدی چی د مرگ یا نورو مظالمو څخه به تښتېدی، نه د هجرت په وخت کي. ځکه نو اسلامي سرچینو هیڅکله محمد (ص) او یارانو ته د هجرت پر وخت فرار کلمه نده استعمال کړې. او په همدې وجه په قرآن شریف کي څو ځایه د هجرت او فرار فرق په ډېر بارز ډول سویدی چي په سورة الآحزاب کي داسي لولو: قل لن ینفعکُمُ الفِرارُ اِن فرَرتُم مِن الموتِ أو القتل و اِذا لأ تُمتعُون إلأ قلِیلاً.

ژباړه:(د مرگ څخه فرار کول تا ته هیڅ گټه نه رسوي او نه به کوم خوند پر واخلې). خو فرار بیا په افغاني ادبیاتو کي د متهم، غل او وران کاره کس لپاره هغه وخت کاریږي چي تر غلط کار یا کوم جرم وروسته په پټه د سیمي څخه تښتي یا فرار کوي، څو خلگ یا حکومت په خبر نسي او وئي نه نیسي. اما هغه څوک چی د خپل ولس اوهیواد د خوشبختی په خاطر د خارجي دښمنانو لخوا د ناوړه حالت او ستونزو سره مخ سي او د خپل ځان، هیواد او خپلو خلگو د خیر او صلاح لپاره هیواد پرېښولو ته اړ سي هغه ته هجرت وایي نه فرار. لکه غازي امان الله خان چي د انگرېز دسیسه، د خپلو خلگو ناپوهي او د ځان ناتواني ولیدل نو پدې خاطر چي د بې ځایه وینو تویولو او وژنو مخه ونیسي په پټه نه بلکه په خپله خوښه ئي په پوره سرلوړي د خلگو، کورنۍ او حکومتي کابینې په مشوره او حضور کي د پاچهي څخه استعفاً وکړه او قدرت ئي خپل ورور عنایت الله خان ته وسپاره، څو خپله کندهار ته ولاړ. که څه هم چي د کندهار او غزني اولسونو حمایه کړ او غوښتنه ئي وکړل چي بیرته د پاچا په صفت کابل ته ستون سي خو دښمن ریښني ځغلولي وې او کار تر کار تېر وو. څو په پای کي نوښت گر او پر ترقي مین پاچا چي خلگو په ژړا او افسوس سره له کندهار څخه د چمن ښار گوتي په لور بدرگه کاوه خپل گران هیواد پرېښود او د مهاجرت په نیت د ایتالیا په لور وخوځېد.

**۲ - هجرت/ هجر** په لغوي لحاظ د جلاوالي په معنا دی خو په اصطلاح کي د پرې کولو او پرېښولو معنا ورکوي چي د بدو اعمالو سره پرېکون ته هم هجرت ویلای سو. هجرت په اسلام کي د ډېرو مهمو مسئلو څخه دئ چي د اسلام په پرمختګ کي ئي بنسټيز نقش لوبولی دئ ځکه نو په قرآن شريف کي تقريباً په ۱۴ اياتو کي مسلمانانو ته د هجرت کولو دستور ورکړسويدئ چي په نهمه سورة او شلم ايه کي داسي راغلي دي:

«اَلَّذينَ امَنوُا وَ هاجَرُوا وَجاهَدُوا فی سَبيلِ اللّهِ بِاَمْوالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّهِ وَاوُلئِکَ هُمُ الْفائِزُونَ»

ژباړه:(هغه چا چي ايمان راوړ او هجرت ئي وکړ او په خپلو اموالو او ځانو ئي د خدای په لاره کي جهاد وکړ هغه پرهيزګاره خلګ دي او خدای تعالی ته لوړه درجه لري).

معنا دا چي فرار او هجرت دوه بېل مفاهيم دي چي بايد فرق ئي وسي. فراري سړئ تر هغو پوري خپل هيواد ته نسي راتلای تر څو په حقوقي لحاظ ئي جرم او جزآ نه وي فيصله سوې او که لدې پرته هيواد ته راسي معلومداره چي د مجرم په صفت به نيول کېږي او زنداني کيږي. خو د غازي او پر هيواد مين پاچا (امان الله خان) پر قبر اوس هم په هميشه بهار ښار کي خلګ ګلونه ښندي، دعا ورته کوي او د هغه ازادئ ورځ لمانځي کوم چي غازی امان لله په ۱۹۱۹ ميلادي کال له انګريزانو څخه واخيستل. روح ئي ښاد او ياد ئي تل.

- د تاريخي فلسفي دوهم رويش دا دئ چي يو تاريخ پوه لومړئ د تاريخ ليکونکي په شان پيښې يا حوادث را ټولوي او بيا ئي د پيښېدلو يا رامنځته کېدلو لاملونه پلټي چي پيښه څنګه او ولي رامنځته سوه. لکه په ۱۴۰۰ هش کال د اسد پر ۲۴ مه نېټه چي د وخت رئيس جمهور (محمد اشرف غني) ښېله دې چی ملت خبر کړي يا خپل ځای ناستی وټاکي د خپلي کابيني سره څوک پر يوه خوا ولاړل او څوک پر بله خوا. يعنی کابل جان ئي طالبانو کرامو ته پرېښاوه چی د مکتبو او پوهنتونو دروازې د افغاني ملالو پر مخ داسي تينګي وتړي چي په توپو نسي خلاصی.

اوس که په لنډ ډول ووايم په دوهم رويش کي د تاريخ پوه دنده دا ده چي تر خپله وسه ثابته کړي او لاملونه ئي پيدا کړي چي ښاغلي اشرف غني او کابيني ئي ولي هيواد پرېښاوه، د کوم مجبوريت پر اساس، د کوم مصلحت پر بنسټ که د کومي معاملي پر اساس؟

ځکه چي اشرف غني او کابيني ئي په وارو وارو په تلويزينو کي په لوړو اوازو سره ويل چي موږ نه د تيښتي خلګ يوو او نه ئي په زور چاته پرېږدو.

پايله دا چي: په لومړي رويش کي د پيښو ليکوال او نقال تاريخ ليکونکی دئ او په دوهم رويش کي ليکوال او تحليل ګر چي هم واقيعات را ټولوي، هم ئي لاملونه څېړي اوهم ئي تحليلوي، تاريخ پوه دي. معنا د تاريخ ليکونکي او تاريخپوه تر منځ توپير سته.

ياده ونه: په ميليونو افغانانو چي نن ورځ د مجبوريته خپل ګران افغانستان پرې ايښی دئ، فراريان نه بلکه مهاجر سويدي. او هر وخت چی وغواړي په جګ سر خپل هيواد ته تګ او راتګ کوي.

درنښت

سرچينه: عربي دايرة المعارف

۱۶ – ۱ - ۲۰۲۵